# بسم الله الرّحْمَنِ الرّحِيمِ

## د افغانستان د خلکو نوې ګوند تګلار
## لومړی څپرکی
## ټولیز آرونه

**لومړی توک : د ګوند پېژند**

د افغانستان د خلکو نوې ګوند ( چې له دې وروسته به په دې تګلار کې د ګوند په نامه یادیږی) ، سیاسی خپلواک ، پرمختګپال( ترقی خواه)، لاربنود او دیموکراتیک سازمان دی چی د هېواد اوسني اکر سره سم د هېواد د نیاوپال غورځنګاو خپلواکی غوښتونکو اوږد مهاله مبارزودلارې لاروی دی.
دټولنی ډېر پوه وګړی به د خپل کړنړیزی موخو د پلي کولو لپاره په یوه هڅانه کی سره راټولوی.
د ګوند ټولنیز بنسټ به دهېواد له پراخو پوړونو څخه چې له کارکونکو، کروند ګرو، زیار ګالونکو، دیموکراتو روڼ آندو، فرهنګیانو، دپوهنتون استاذانو، ښوونکو، زده کوونکو، د دولتی ادارو کارکوونکو ، تحصیلی موسسې، ډکترانو ، د ټولنیزو اسانتیاوو کارپوهانو، او نور نیاوپالو تولنیزو ډلو نه جوړشوی وی ، جوړیږي.

**دویمتوک: اډانیز آرونه (تشکیلاتي اصول)**

۱- دګوند بنسټیزې کړنې د سازمان دننه د ریښتینې دیموکراسی ، د ګردو اورګانونواو چلوونکو ټاکنیز غوراوي ، ګډو پرېکړو، د غوره شویو اورګانونو دپرېکړو نوښتګرانه رښتیاینې، د غورځنګ په ټولو پوړیو کې د کړو وړو ګوزارش وړاندېینې ، ځانخبرې( آګاهانه ) انضباط ، جوتتیا او په ډاګه وبینه،دګډې ملتیا او یووالې لوښې(روحیې) ، ځانتېرېدنې او سازماني ګټو ته په لومړیتوب ورکونه جوړیږي .
۲ – د ګوند موخیز یووالی: د ګوند د کړنلار پلی کول،په ګوند کې دغړیتوب رښتینینښه ده.

**دریمتوک :**

۱- که چېرې په دې تګلار کې بل خیل کښل شوی نه وي نو دګوند په ټولو اورګانونو کې غونډی،په غونډو کې د دغو اورګانونو غړو دډېری ګډون پر بنسټ رسمیت مومی.
۲- د ګوند نه د یو غړی د شړلو(ایستلو) پریکړه د سوبو غړو د دوو پر دریو برخو رایو په پایله تر سره کیږي.

## دویم څپـــرکی
## غړیتوب ، او دغړو رښـــــــــــتې او دندې

**څلورم توک : دغړیتوب آړونه (شرایط):**

په ګوند کې غړیتوب خپلخوښی( داوطلبانه) دي.
دهېواد هر وګړیچې ۱۸ کلنی ته رسېدلی وي ، دګوند کړنلار او تګلار ومني او دهغوی په پلی کولو کې هڅه وکړی، په ګوندی غونډو کې په پرله پېیلي او فعاله توګه ګډون وکړي، غړیتوب ګډونبیه( حق العضویت) او دغړیتوب ونډه ورکړي او دنورو سیاسي سازمانونو غړیتوب ونه لری ، د افغانستان د() ګوند غړی کېدای شي .
ګوند ته د غړیتوب منښت په ځانګړې (انفرادی ) توګه دلومړنیو جوړښتونو له خوا دسوبو غړو د رایو په ډیری اود سیمه ییزو شورا ګانو، ولسوالیو، ښاري او دهېواد نه بهر شوراګانو (بهرنی شورا ګان) له خوا له منلو او هوکړی وروسته تر سره کېږی.

غړیتوب ته لېوال وګړی به به هغو غونډو کې کدون وکړی چې دده دمنلو په هکله پریکړه کوی.
ډله ییز منښت د ګوند دمرکزي شورا له خوا ترسره کېږي .

**پنځمتوک : دګوند د غړو ربښتي ( حقوق)**
د ګوند په جوړښت کې د غړو ربښتي، ددوی د ګوندی موقف ته به نه پاملرنو سره ټول یو شان او برابر دي.
د ګوند هر غړی داربښته لري چې په غونډو کو د ګوند پر سیاستونو، دګوند پر چال چلند او د ګونداړوند پر سیاسی او سازمانی سکالو ګانو( موضوعات) باندې د خبرو او خپلې رایی د څرګندلو په ترڅ کې د ګوند سیاستونو په سمون کې برخه واخلي.
دګوندهر غړی دا ربښته لري چې د ګوند د کورنیو ټولټاکنو په بهیر کی دغورځنګ ټولو پوړیو (مقامونو) او اورګا نونو ته ځان ونوموي او یا هم بل غړی غوره کړی، یا خو په ټولټاکنو کې خپلځان نومول په سیده او خپلخوښی توګه غونډې ته وړاندې کړي.
د ګوند هرغړی د پورتنیو اورګانونو د پریکړو او کړو وړو نه د خبرېدلو ربښته لري، دخپلو وړاندیزونو او کړو وړو د څرنګوالی په برخه کې د خبریدو ربښته لری. هرغړی دا ربښته لري چی په هغو غونډو کې چې دده / ددې /کړه وړه تر پوښتنو درویږنو لاندې راځي، برخه واخلي ،او په یوه دېموکراتیکه فضا کې له ځانه دفاع وکړیاوددغو غونډو دپریکړو دنه منلو په ترڅ کې تر پورتنیو اورګانونو، ان تر لویې غونډې (کنګرې ) پورې دلیکاني شکایت حق لري.
هر غړی دا ربښته لري چې د ټولنیزو، او پر مختللی فرهنګی سازمانونو غړیتوت ترلاسه او یا خو په خپله ددی سازمانون په جوړلو لاس پوری کړی.
هر غړی دا ربښته لري چې د ګوند د غړو او ګوندی اورګانونو کار او کړه وړه تر رغنده او ګټورو نیوکو لاندې راولي.
**شپږم توک : د ګوند دغړو دندې او مکلفیتونه :**
دګوند هر غړی دنده لری چې:
۱- د ګوند په کړنلار کې د راغلی موخو او دګوند په تګلار کې کښلی لیکو ربښتیاینی ( تحقق) په لاره کې مبارزه وکړي.
۲ - خپل سیاسی او فرهنګی پوهې د کچې په لوړلو کې هاند او هڅه وکړی.
۳ - د نورآندیزو ( دګر اندیشان) په وړاندې د زغم وړ چلند په کولو سره د هغوی په ملتیا د ګډو موخو په پلي کولو کې د ګډ کار لپاره هڅې وکړی.
۴ - دخلکو په منځ کې دګوند انساني ارزښتونه، روان سیاست او دګوند لیدلوری خپور کړی او دګوند په غونډو او او ناستو کې کارنده برخه واخلي.
۵ - د ټولنیزو سازمانونو په کار او هڅو کې دې کارنده برخه واخلي.
۶ - د ګوند پیاوړتیا او څومره بیزې څرنګیزې (کمي کیفي) ودې لپاره هلې ځلې وکړی.
۷ - د ګوند د کړنلار او تګلار سره د ناسمو او او نورو وروسته پاتې دودونو دستورونو ، ځانځواکۍ او تبرنیو لېوالتیاوو سره مبارزه وکړي.
۸ - خپل میاشتنی غړیتوب ګدونبیه( حق العضویت) په پر له پېیلي توګه ګوند ته وسپاري.

**اووم توک : له ګوند سره د اړیکو پری کول او سزا ورکونه:**
هرغړي ته چې د غور ځنګ د تګلارې له آرونو تېری کوي، په وییبه ( شفاهی) ، یادونه (توصیه) ، ګواښنه ( اخطار) او له ګونده په ایستنه سزا ورکول کیږی. له غړیتوبه دشړنې

پرېکړه، د اړوندې کړی( حوزی) له خوا ترسرهکېږي او دلوړ سازمانی شورا له خوا پلی کېږی.
هرغړي\ غړې ته چې سزا ورکول کیږي، کولای شي چې په هغه غونډه کې ګډون وکړی چې ده \ دې ته د سزا ورکولو لپاره جوړیږی او د پریکړې د نه منلو په صورت کې د ګوند پورتنی اورګانونو آن د ګوند کنګرې ته په لیکانی ډول خپل پلپوټ ( شکایت ) وړاندې کړی.
له ګوند نه شړل تر ټولو سخته سزا ده. له دې کبله په دې هکله د پریکړو لپاره باوري او رښتینو لاسوندونو ته اړتیا شته.

هرغړي دا رښته لري چې په خپله خوښه او یا هم د رښتینو لاملونو له کبله له ګوند سره خپله پریکړه په لیکانی توګه څرګند کړی.

## دریم څپرکی

## اډانیز جوړښت ( ساختار تشکیلاتی) او د ګوند اورګانونه

**اتم توک : د ګوند اډانه ( تشکیلات) له لاندیني اورګانونو څخه جوړ شوی:**

۱- لومړنی کړی ( واحد های اولیه).
۲ - د هستوګنې د سیمو کړي چې دادی : ( ولایتی، ښاری. ولسوالی. ناحیې او بهرنې).
۳ - د څارنې او پلټنې کمیسیون.
۴ - دارالانشأ
۵ - اجراییه پلاوی
۷ - کنګره

**نهم توک : د ګوند کنګره**

دګوند کنګرهد پریکړو لوړترین لاربنود اورګان دي چې د ولایتی کنفرانسونو د ټاکل شویو استازو ، په هېواد کې دننه د ولایت تر کچې ښارونو او دهېواد نه بهر د بهرنیو کړیو له ټاکل شوو استازو په کارنده برخه اخیستنې سره جوړیږی.
کنګرې ته د استازو د غوره کولو څرنګوالې او آرونه په اړین وخت کې د ګوند د اجراییه پلاوي له خوا د یو ې جلا لاربنوونې په ترڅ کې به په ګوته کیږی.
کنګره لاندېني رښتې ( صلاحیتونه) لری:
۱- دکنګرې د ددو ناستو تر منځ د مرکز شورا د ګوزارش اوریدنه.
۲ - د ګوند د ستراتیژیکو لارو ټاکل او په کړنلار او تګلار کې بیا سمون ( تعدیل).
۳ - د ګوند د سروال( رییس)، د مرکزي شورا د غړو او ګوند ته دڅارنې او پلټنې د کمیسیون سروال ټاکنه او غوره کونه،
۴ - دګوند لپاره د نوم، بیراغ ، مُهر او نښان غوره کونه.
۵ - د ګوند د ړنګېدو پریکړه.
د ګوند کنګره په عادي ډول هر درې کاله یو ځل جوړیږي.
د ګوند ناواریزه او فوق العاده غونډه کولای شي چې په خاصو حالاتو کې د مرکزی شورا دغړو ددو پردرو برخوپریکړه جوړه شي. د فوق العاده غونډې دجوړېدو چارې به د مرکزی

شورا په لاربنود او یا د هغه اورگان په لاربنونه چې د مرکزی شورا له خوا یی دنده تر لاسه کړی تر سره شي.
د کنگرې نصاب د استازو د دوو پر درو برخو گډ ون سره پوره کېږي او د کنگرې پریکړې دسوبو استازو دډیریو په رایې تر سره کېږی.

**لسم تو ک : د گوند مرکزی شورا**

د گوند مرکزي شورا ددوو سراسري کنگرو ترمنځ د گوند لوړترین لار ښود او سموال اورگان دی.
مرکزی شورا لاندیني رښتی او دندې لري:
۱ دگوند دسروال د مرستیالانو ، د اجراییه پلاوی او د پلټنې او څارنې د کمسیون د غړیو غوره کونه او ټاکنه.
۲ - د ددو کنگرو د جوړېدو تر منځ دگوند پر روان سیاسیچال چلند باندی هوکړه یا هم بیا سمون( تعدیل).
۳ - د گوند د فوق العاده ( ناواریز) غوندي رابلنه.
۴ - د اجراییه پلاوي او د پلټنې او څارنې د کمسیون دگوزارشونو اوریدنه.

دمرکزی شورا عادی غونډه ( پلینوم) په کال کې یو ځل جوړېږي.
دهغه فوق العاده او ناواریزې غونډی به د مرکزی شورا د غړو د دوو پردریو رایو غوښتنه او در اجراییه پلاوي د هوکړی ورسته کیدای شي چې ناواریز او مخکی تر مهاله جوړ شي.

**یوولسم توک : اجراییه پلاوی ( هیأت اجراییه)**

دمرکزی شورا اجراییه پلاوی چې ددوو کنگرو تر منځ د گوند چال چلند د پر مخ بیولو پازه په غاړه لري، د مرکزی شورا د پلینوم دپریکړو پر بنسټ خپلی دندې پر مخ بیایی او دا لاندې رښتی او دندې لري:

۱- د مرکزی شورا او اجراییه هیأت پلاوي له غړو نه د دارالانشاء دغړو ټاکنه،
۲ -دمرکزي شورا د دفترونو اډانیز جوړول او بیا سمون، د دارالانشاء د وړاندیز پر بنسټ دمرکزی شورا د دفترونو د چلوونکو ټاکنه.
۳ - د اجراییه پلاوي د گوزارش اوریدنه، اډانیزو اورگانونو ته لاربنوونو او کاري پلانونو ټاکل،

۴ -د ایر ( عاید) او لگښت ( مصرف) سکالوو څېړنه اود گوند پر مالی چارو او پریکړو باندې څارنه،
۵ - د گوند دخپرنیزو اورگانونو د چلوونکو ټاکنه ، ددغو اورگانونو کارندویی(فعالیت) ته لوری ورکول او خپرنیزه پالیسي ور ټاکل،
۶ - د مرکزی شورا، ولایتی شورا گانو، بهرني شورا گانو او دولایت یه کچه ښارونو دفترونو ته د ځانگیزو( حرفوی) کارکونکو ټاکنه،
۷ -دکړنلارې او تگلارې پر آرونو باندی سمنورو پرمختللو سیاسي ټولنیزو سازمانونو سره داړیکو ټینگول( تأمینول ) .

۸ -لويي جرګې او پارلمان ته دغورځنګ دنوماندو (کانديدانو ) او دغورځنګ د ټاکنيزو(انتخاباتي ) وستلونو(پلاتفورمونو) لاربنوونه ، د دېموکراتو او پر مختللو ځواکونو د همغږی او پيوستون په موخه د کورني سياسي سازمانونو سره پر تړونونو باندي هوکړه.

د اجراييه پلاوې غوندي د مرکزي شورا د پلانونو پر بنسټ په هرو دوو مياشتو کې يو ځل او د ضرورت پر مهال په ناواريز او فوق العاده توګه هم جوړيداي شي.

**دوولسم توک : دارالانشأ**

دارالانشأ د ګوند تل کارنده ( فعال) اورګان دی چې د ګوند له سروال، مرستيالانو او ددارالانشأ د غړو نه جوړشوی دی. دارالانشأ د اجراييه پلاوي له خوا ټاکل کېږي.
دارالانشأ دا لاندې دندې او رښتې لری:

۱- په پرله پېيلی او سيستماتيک ډول دکنګرې او پلينومونو دپريکړو د پلي کولو لپاره،د اجراييه پلاوي او مرکزی شورا اړوندو شعبوته داجراييه پلاوي د دوو غوندو تر منځ د مرکزی شورا د دشعبو او دهغه سيمه ايزو اورګانونو د کړو وړو لاربښوونه،
۲ - دکړنلارې او تګلارې د آرونو د پلی کولو په موخه نورو ګوندونو او سياسی بنسټونو او سازمانونو لکه، د سولی دپلويانو ټولنيز او فرهنګی سازمانونه، بشری رښتو سازمان، په نړيوال او هېواد کچه د ښځو سره د اندول رښتو اورګانونه او له دولتی اورګانونو سره د نېکو اړيکو ټينګونه.

د دارالانشأ غوندې په هره مياشت کې يو ځل او د ضرورت په حال کې په ناواريز ډول هم جوړيدای شي.
ددارالانشأ هر غړی د مرکزی شورا د يو يا څو دفترونو سره مرسته او د هغوی دچارو څارنه کوي، او اجراييه پلاوي ته دخپل کار ګوزارش ورکوی.
د مرکزی شورا د دفترونو اډانه او د کار لاربښوونه د يو ځانګړی کړنليک په تر څ کې د مرکزی شورا د اجراييه پلاوی له خوا تر سره کيږي.

**ديارلسم توک : سروال ( رييس)**

دګوند سروال د دې لاندې دندو او واکونو څښتن دی :
۱ -د کنګرې مشري، د مرکزی شورا د غونډو ، ددمرکزي شورا د اجرائيه پلاوي او د دارالانشأ د غونډو سمبالښت ، او دنورو سازمانونو او سياسي جوړښتونو په نړيوالو او ملي غونډو او خبرو کې ، دګوند استازيتوب کوي. د کنګرې غونډې ته دګوند دلوړو اورګانونو دپريکړو پر بنسټ دکارلوريو په ټاکلو کې مرکزی شورا ته مسوول دی.
۲ - د ګوند د لاربښودو اورګانونو د کار همغږی کول پر غاړه لري.

**څوارلسم توک : د څارنې او پلټنې کميسيون**

د څارنې او پلټنې کميسيون ، د ګوند دکړنلار او تګلار پر پلي کولو او د مالی او اداری چارو د څارنې پازه په غاړه لري. ددې کميسيون غړي به د مرکزی شورا په غونډه کې د مرکزی شورا د غړو له منځه ټاکل کېږی.

**پنځلسم توک :ولايتی او د هېواد نه بهر سازمانونه**

د ګوند ولايتي سازمانونه د ګوند له ښاری اړوندو سازمانونه څخه جوريږی.
د کابل ښار حزبی سازمان د يو ولايتي سازمان په توګه ګڼل کېږی.

**شپاړلسم توک : ولایتي او هغوی ته ورته شورا ګاني.**
ولایتي شورا ګاني، د کابل ښار شورا او دهېواد نه بهر شورا ګاني او سازمانونه په سیمو کې د هغو شورا ګانو او سازمانونو لوړ ترین لارښود اورګانونه دي او له خپلو کارونو څخه مرکزی شورا، ولایتی کنفرانس او بهرني شورا ګانو ته ګوزارش ورکوی. د مرکزی شورا اجراییه پلاوې دا رښته لري چې ځینې ښاری شورا ګانو ته د ولایتي شوراګانو په کچه واک او رښته ورکړی.
ولایتي شوراګانې دا لاندې دندې او رښتې لری :
۱- د اډانیز او کړنلاریزو لاسوندونو پر بنسټ ولایتی سازمانونو ته لوري ورکونه،
۲ - دلارښوونکي اورګانونو د پریکړو د پلی کولو په لار کې د ګامونو اوچتول.
۳ -ګوند ته د نوو غړو د را څکولو ( جلبولو) او دغړو منښت، د غړیتوب ګډونبیې او مرستود راڅکول او راټولولو د چارو د سمونې دنده په غاړه لري.
۴ - د مرکزی اورګانونو د پریکړو پر بنسټ د غونډو او کنفرانسونو جوړول.
۵ - د ولایتی شورا ګانو داجراییه پلاوو د غړیو ټاکنه او یا هم لري کول.
ولایتي شورا ګانې کولای شي چې خپلې ځینې رښتې او دندې، ښاري او د ولسوالیو شورا ګانو ته ولېږدوي.
**اوه لسم توک :**
د ولسوالیو شورا ګانې، ښاري او سیمه ایزې شو را ګانې په هغه ځایونو کې جوړېږي چې له ۲۵ تنو څخه زیات ګوندي غړی هستوګنه لري.
د ولسوالیو شورا ګان، ښاري او سمه ایز شورا ګان خپل سازمانی او اډانیزې چاری ددې تګلار پر بنسټ رغوی او له خپلو کړو وړو څخه لارښوونکي لوړو شورا ګانو ته ګوزارش ورکوي.
**اتلسم توک :**
لومړنی کړۍ ( لومړنی واحدونه) د ګوند بنسټیز ی کړي دي چې د ګوند اړیکې له خلکو سره ټینګوي. لومړنی کړۍ د غړیو د ژوند او کار په اړوند جوړېږي. هغه ښاری، ولسوالی، او سیمه ایز سازمانونه چې د دغو کړیو درولودنکي نه دي، لومړني کړی ګنل کېږي.
لومړنۍ کړۍ دا لاندې رښتی او دندې لري:
۱ - د خلکو په منځ کې د ګوند د سیاستونو رواجول او تبلیغ، لارښوونکي پورتني اورګانونو ته د غړیو د وړاندیزونو او نیوکو رسول او وړاندې کول.
۲ - داډانیزي شعبی د لارښودونو پر بنسټ ګوند ته ځانګړو غړو راڅکول او منښت.
۳ –دغړیتوب ګډونبیو او مرستو را ټولول.
۴ - پورتني اورګانونو ته، له ګوند نه د غړي د ایستلو وړاندیز.

**څلورم څپــــــــــــرکی**
**نورې چـــــــارې**

**نونسم توک:**
د ګوند د اېر( عاید) سرچینې جوته دې چې له غړیتوبګډونبیو، خپل خوښو مرستو، د خپرونو د خرڅلاو او نورو قانونې وتیز( اقتصادی) کارنده هلو ځلو له لارې لاس ته راځي.
**شلم توک :**
د ګوند مرکزی ناستځای ( دفتر) د کابل په ښار کې دی. د ولایتی سازمانونو ناسځایونه به پخپلو ولایتونو کې وي.
**یوویشم توک :**

گوند به ځانته خپرونې لري چې دا خپرونې دگوند دليدلوريو، دخلکو دژوندانه داکر اود زيار کښانو دغوښتنو ځلندويه( منعکسوونکي) دي ، دگوند دروانو سياستونو دتبليغ او دکړنلارې اوتگلارې په پلي کولو کې ستر رول لوبوي .

**يادوونـــــــــــــــه**

دغه تگلاره په څلورو څپرکو او يو ويشتو توکو کښل شوی دی.